لیکوال: گابریل گارسیا مارکیز

ژباړن: احسان‌الله اربنزی

۲۰۲۶/۰۳/۱۷

# د اګست میاشتې اروا

له غرمې مخکې آره سو [1] ته ورسیدو؛ خو څه باندې دوه ګړی په رنسانس مانۍ پسې لالهانده شوو، چې ونزویلایی لیکوال، میګل اوتر سیلوا [2] ، د توسکان [3] په لیرې کلیواله سیمه کې اخستې وه.

د اګست د پیل یوه توده او د سیلانیانو په ګڼه ګونه ډکه ورځ وه او د داسې چا موندل، چې په تولو لارو او ګودرونو وپوهیږي، آسانه نه و. له ډیرو هڅو وروسته بیرته موټر ته وختو او په هغه لاره روان شوو، چې دواړو خواوو ته یې شنې ونې ولاړې وې، لیکدړې نه وې او موږ له ښاره ووتو. یوې شپنې میرمنې د مانۍ لار راوښوده؛ خو له خدای پامانۍ مخکې یې پوښتنه وکړه، چې غواړو هلته شپه وکړو که څنګه؟ موږ ورته وویل نه د غرمنۍ د پاره ځو. دې وویل:

- ښه خبره ده؛ ځکه په هغه مانۍ کې ارواوې اوسي!

ما او میرمنې مې چې په ارواوو، هغه هم په رڼا ورځ باور نه درلود، په دې ښځه پورې وخندل؛ خو زموږ دواړه نهه او اووه کلن زامن، د ارواوو لیدو په هیله خوشاله ښکارېدل.

میګل سیلوا چې په لیکوالۍ سربېره بې سیاله میلمه پال، په خبرو پوه او د خوندورو خوړو پخوونکی و، په زړه پورې غرمنۍ چمتو کړې وه. د ناوخته رسېدو په توسن د مانۍ لیدو ته وزګاره نه شوو او میز ته کیناستو.

مانۍ هیڅ ډاروونکی نه ښکارېده. د دوړې خونه په څو دوله او ډیرو ګلانو ډکه او ښایسته وه. د ښار ننداری زموږ توله ستومانې پای ته ورسوله.

خبره نوابغو ته لاړه. موږ نه پوهېدو چې څنګه په دې کورونو کې، چې د نهه سوه زره کسانو د پاره پوره ځای نه لري، دومره نوابغ زیږېدلي؛ خو میګل سیلوا په کارابیني خندا کې وویل چې دوی چیرې او نوابغ چیرې!

او په جګه یې وویل:

- خو په دې نوابغو کې د لدویکو [4] نوم تر تولو لوړ دی.

ده وویل چې لدویکو کورنی نوم نه درلود، خلکو به د هنر او جګړې هڅوونکي باله او د غرمنۍ په توله موده کې یې، د لدویکو د مانۍ په هکله خبرې وکړې، چې د هغه د پاره یې دردونکی پای درلود!

د لدویکو د ستر ځواک په هکله وغږېد، د هغه د غملړلې مینې او مړینې کیسه یې وکړه. سیلوا وویل چې لدویکو د لیونتوب په یوه شیبه کې، خپله ملګرې له ښپېر خوند وروسته، په کټ کې په چاړه وژلې او بیا یې خپل داړونکي سپي

ځان ته خوشي کړي او ټوټه ټوټه شوی. میګل سیلوا په ډېر ډاډ وویل چې له نیمو شپو وروسته، د لودویکو اروا په کور کې ګرځي او هڅه کوي چې د خپلې مینې په برزخ کې آرامتیا ومومي.

مانۍ په رښتیا ډېره لویه او تیاره وه؛ خو د سیلوا خبرې په رڼا ورځ او مړه کېده، داسې وي لکه د مېلمنو د بوختولو د پاره چې کېږي. د نیمې ورځې له خوبه وروسته، موږ د مانۍ په هغه دوه اتیا خونو وګرځېدو، چې د مانۍ پرله پسې څو خاوندانو ډېر بدلونونه پکې راوستي وو.

میګل سیلوا ټول لومړی پوړ بیا رغولی و. د خوب یوه نوې خونه یې جوړه کړې وه، چې غولی یې مرمر و. سونا حمام، د ورزش ځای او ځنګ ته یې په ګلانو ډکه هغه خونه چې موږ پکې غرمنۍ خوړلې وه. د دویم پوړ ډېرې خونې چې خلک څو پېړۍ پکې اوسېدلي وو، په هغه کالیو ډکې وې چې پخوانیو اوسېدونکو په ځای پرېښي وو. له دې پاس داسې یوه خونه وه چې لرغوني بڼه یې درلوده او چا لاس نه و، وروړی. دا د لودویکو د خوب خونه وه.

په زړه پورې شېبه وه. پردې په زرتارو جوړې وې. هلته د خوب کټ و. د کټ د سر ټوټه چې په ګلاباتونو ګنډل شوې وه، تر اوسه لا د وژل شوې ملګرې په وچو وینو سره ښکارېده. دې خوا بخارۍ وه چې ایرې یې کنګل شوې وې او لرګې په ډبرو اوښتي وو!
د بخارۍ پورته خوا ته ډزو ته چمتو وسله ځوړنده وه. په دېوال باندې د سرو زرو په قاب کې د یوه خپه جنګیالي انځور ځړېده، چې د فلورانس یو استاد نقاشي کړی و؛ خو نوم یې نه و پرې لیکلي. هغه څه چې دلته خوندور ایسېدل، د توتو د هغه ونې بوی و چې ټوله خونه یې په سر اخستې وه.
د توسکان د دوبي ورځې اوږدې دي. لمر ان د شپې په نهو بجو هم پوره نه وي ډوب. موږ ټوله مانۍ تر پنځو بجو ولیده؛ خو میګل سیلوا ټینګ و چې موږ د سان فرانسیسکو San Francesco کلیسا، د دېوالونو د نقاشیو ننداري ته بوځي. بیا مو کافي وڅښه. کله چې مانۍ ته ستانه شوه او غوښتل مو چې لاړ شو، ماښامنۍ میز جوړ و او لړ تم شوو.
هغه وخت چې موږ په انګړ کې میز ته ناست و او لومړنی ستوري له ورایه ښکارېدل، زموږ زامنو له پخلنځي څخه ډېوې پورته کړې او پاس وختل، چې په تیارو کې نوې شیان ومومي. موږ په زینو کې د وحشي آسونو د ځغاستې غږونه ان دلته اورېدل، د ورونو د اسوېلو غږونه راتلل او هغه نارې مو اورېدې، چې په لدویکو یې، په تیارو خونو کې غږونه کول. دا هغه کسان وو چې هلته یې د پرېوتو او ویدیو شیطاني فکرونه کول. میګل سیلوا چې اوس له ډېرې خوشالۍ د وجد په حالت کې و، له دې کسانو سره مرسته کوله او موږ خو د نزاکتونو په توسن. د هغوی مخه نه شوای نیولی.

که څه هم چې په زړه کې مې وېره وه؛ خو ښه ویده شوم. زه او مېرمن مې د مانۍ په لومړي پوړ کې پراته شوو. د ماشومانو خونه زموږ ځنګ ته وه. دواړه خونې نوې جوړې وې او کومه ستونزه یې نه درلوده. همغسې چې خوب ته مې شیبې شمارلې، د مېلمنو د هرکلي د خونې د لویې ګړۍ دوولس ټکونه مې واورېدل. د شپې مېرمنې وېروونکې خبرو مې په غوږونو کې انګازې وکړې؛ خو دومره ستومانه وم چې ژر ویده شوم او ښه ویده شوم.

د سهار له اوو بجو وروسته مې، سترګې د لمر په هغه وړانګو ولګېدې چې بهر، د تاکونو په شنو څانګو ډېرې ښایسته خورې وې. په څنګ کې مې مېرمن ناسته وه. ځان ته مې وویل:

- په دومره پاخه عمر کې په ارواوو باور، د هوښیارانو کار نه دی. د تازه توتو بوی ولړزولم. په هغه بخارۍ مې سترګې ولګېدې چې ایرې یې کنګل وې او د مخې لرګي یې په ډبرو اوښتي وو. مخامخ هغه خپه جنګیالی را ته کتل، چې له درېو پېړیو راهیسې د سرو زرو په قاب کې ایسار و.

موږ د لومړي پوړ د خوب په نوې خونه کې نه وو. د لدویکو د خوب په خونه کې ویښ شوي وو. هغه چې پردې یې په زرتارو جوړې وې او د نفرین شوي کټ د سر ټوټه لا هم په تودو وینو سره وه!

د ۱۹۸۰ اکتوبر

فارسی ژباړن: احمد ګلشیری

پښتو ژباړه ۱۳-۰۱-۲۰۲۶/۱۳

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

---

[1] Arezzo

[2] Miguel Otero Silva

[3] Tuscan

[4] Ludovico



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ